# د بجلۍ د منافعې د بقايې غوښتنه

**اداره**

د صوبې د وزيراعلي اميرحيدر خان هوتي په مشرۍ کښې د بجلۍ د منافعې د وصولولو دپاره يوه جرگه جوړه کړې شوه. پرېس ته د وضاحت دپاره د صوبې د اطلاعاتو وزير ميا افتخار حسين په يو پرېس کانفرنس کښې داسې ووې" د سرحد حکومت د 1973 نه تر اوسه پورې د پنځۀ سوه اربه روپو د خالصې منافعې د حاصلولو دپاره يوه جرگه جوړه کړه. ميا صاحب ووې د ايم ايم اې د دور د 110 ارب روپو فېصله مونږ د بنياد په توگه د دغې جرگې په ذريعه زر تر زره صدر پاکستان او وزيراعظم ته وړل او پېش کول غواړو، دوېم دا چې د سرحد حکومت د روژې په مبارکه مياشت کښې په ملاکنډ ډويژن کښې د شرعي نظام د نفاذ اعلان کوونکے دے، درېم دا چې د مشترکه مفادات کونسل په حوالې سره د خپلو تجويزونو يو ځائےکولو سره سره د غنمو مسئله هم په مشترکه مفادات کونسل کښې راپورته کول غواړو، دا فېصلې تېره ورځ د سرحد د وزيراعلي په مشرۍ کښې د کابينې په غونډه کښې وشوې".

ميا صاحب ووې چې د کابينې په اجلاس کښې په ايجنډه د ټولو نه اهمه نکته د بجلۍ خالصه منافعه وه هغۀ ووې چې د 110 ارب روپو واجبات صرف د 1991 نه تر اوسه پورې د بجلۍ د منافعې برخه ده.

مونږه د 74-1973 نه واخله د 1991 پورې د جوړې شوې خالص منافعې نه لاس په سر کېدے نۀ شو، بلکې د ايم ايم اې د دور حکومت د 110 ارب روپو فېصله د بنياد په توگه تر اوسه د جوړې شوې خالص 500 ارب روپو منافعې د وصولولو دپاره د وزيراعلي په مشرۍ کښې د سرحد د کابينې د غړو جرگه راجوړه کړې شوه چې اوس به د صدر مملکت او وزيراعظم سره ملاقات کښې خپله خبره پېش کوي، هغۀ ووې چې په ابتدائي صورت کښې مونږ دواړه سينئر صوبائي وزيران بشيراحمد بلور او رحيم داد خان، وزير خزانه انجينئر همايون خان، وزير اطلاعات ميا افتخار حسين، چيف سېکرټري او نورو څو سرکاري افسرانو يوه کمېټي جوړه کړې چې دوي د مرکزي حکومت سره د بجلۍ د گټې د کېس راپورته کولو نه مخکښې مخکښې د دې سلسلې ټول معلومات راجمع کړي او د يو رپورټ په شکل کښې ئې دغه کمېټۍ ته په راتلونکي وخت کښې د ټولو معاملا تو د نگرانۍ کار هم کوي.

ميا صاحب ووې چې کومو ضلعو کښې گېس او تېل راوتي دي، د هغې د پنځۀ فيصده رائيلټي ورکولو دپاره هم د چيف سيکټري په مشرۍ کښې کمېټي ټاکلې شوې ده.

مونږ د مشترکه مفادات کونسل په حواله د صوبې نه هم تجويزونه غوښتي دي، صوبائي حکومت د دې دپاره هم دواړو سينئر صوبائي وزيرانو يوه کمېټي جوړه کړې وه، دغې کمېټۍ په دې سلسله کښې مختلف تجويزونه رامخ ته کړي دي، مثلاً کونسل په مخکښې د صدر دفتر او سکرټرېټ نه چلېدو، مونږ تجويز ورکړے دے چې دا د د وزيراعظم د سکرټرېټ نه ايډېټ کيږي او وزيراعظم دې د دې چيئرمېن هم وي، مخکښې به صدر هر څوک چيئرمېن کولے شو، مونږ د دې دپاره د

وزیراعظم د چئیرمېن کېدو تجویز ورکړے دے چې هم دے دې اجلاس هم راغواړي.

میا صاحب ووې چې د اوړو بحران ډېر پېچلے شکل اخستے دے، مونږ به ضرور دا هم په مشترکه مفادات کونسل کښې وړاندې کوو.

## خبر او خبره

په تېرو څو ورځو کښې دوه زلزلې راغلې، دا دواړه زلزلې اګر چې کمزورې وې خو د تېرې لويې زلزلې نه چې د خلقو په زړونو کښې کومه ویره موجوده وه هغه ئې راتازه کړه او دغې تازګۍ ته نوه تازګي يو بل خبر ورکړه. څو ورځې مخکښې په اخبارونو کښې يو خبر خور شو، د څۀ مناسب سائنسي دلائلو سره ئې دا پېش ګوئي کړې وه چې په راتلونکې میاشت دوه کښې د يوې بلې لويې زلزلې امکانات شته، اخبار، خبر او تبصره نن د ټولې دنيا يواځينۍ خوراکه ده، په بې خبره دنيا کښې مرګ هم په سکون وي، په باخبره دنيا کښې ژوند او احساس په خپله د تشدد جامې اغوستې وي، د اخبار د دغې يو خبر سره د يو عام سړي تبصره دا وه چې نننے انسان مجبوره دے چې د مرګ د سېورې لاندې خپلې سترګې شوګير وساتي. انسان په شتۀ ټولنو کښې دومره يواځې شوے دے چې د بل د بچ کېدو احساس د خپل ځان د پاره هم نۀ شي په کار راوستے، دا حقيقت دے کۀ نۀ د مايوسۍ نه پېدا شوے يو عام خيال؟ او د دې خيال د پېدا کېدو زمکه "دنيا" ده کۀ د دې ملک خپله خاوره، نو د دې ملک د خاورې قسمت او د قسمت لوبه د دنيا په لاس کښې ده او د دنيا د لاس نه ازادي د دې ملک د عوامو د يو داسې اکثريت په لاس کښې ده څوک چې د دنيا د دهشت نه واخله د خپل ځان د دهشت پورې په وينو سرۀ دي، د ګرانۍ ملا ماتوونکے بار، د بې روزګارۍ وژونکے تصور، په قدم قدم په ساه ساه د قتل ډاکې ويره، لنډه دا چې د زړګونو بلاګانو او اژدهاګانو د وازو خلو ترمنځه د مرګ په کُومي کښې د اوسېدو د توان او حوصلې خبره ده. د دې د پاسه د زلزلو دغه پېش ګوئي چې د انسان پرې لا هيڅ وس نۀ دے رسېدلے، بيا هم د خاورو ختو د مکينانو سره صرف د خدائے اسره شته، خو دا اسره هم نۀ کمه ده او نۀ وړه، هم په دغسې حالاتو کښې هم په دغسې بې اطمينانۍ کښې، قامونه او اولسونه د خپل ماضي تجربې راواخلي او د نوي فکر د پاره نوې لارې پېدا کړي. د لارو پېدا کوونکو اولسونو او قامونو او په دغو لارو د تلونکو اولسونو او قامونو مدد خدائے هم کوي.